مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوری
۲۰۲۶/۰۱/۰۷

# اختلاف دښمني نه ده؛

## د اختلاف نه زغمل دښمني زېږوي

په انساني ټولنو کې د بنیو او فکرونو اختلاف یو طبیعي، نهجلا کېدونکی او حتمي واقعیت دی. انسانان د فکر، باور، ارزښتونو، تجربو، شخصیت او عقلاني لید له مخې یو له بل سره توپیر لري. مبالغه به نه وي که وواېو چې په هره ټولنه کې د هغو د نفوسو په شمیر متفاوت انساني فیګورونه او فکرونه وجود لري. په ټولنه کې د دي طبیعي او حتمي توپیرونو موجودیت نه یوازې عیب نه دی، بلکې د ټولنیز پرمختګ، نوښت او فکري ودې بنسټ جوړوي. ستونزه هغه وخت پیدا کېږي چې اختلاف ته د دښمنی په سترګه وکتل شي، او د زغم پر ځای د حذف، تحمیل او زور لاره ونیول شي.

**اختلاف د طبیعت او عقل غوښتنه ده:**

که ټولو انسانانو یو شان فکر او بنې، یو ډول لید او یو ډول اخلاق او ارزښتونه لرلی، نو نه به علم پرمختګ کړی وای، نه سیاست، نه کلتور او نه تمدن. اختلاف د پوښتنې، نقد- کره کتنې- او بدلون سرچینه ده. د عقل سالمه فضا هغه ده چې پکې بېلابېل نظرونه د وېرې پرته وړاندې شي او د منطق له لارې وارزول شي. هیڅ حاکم، سیاستوال او قوماندان نه شي کولای چې د ټول هېواد د وګړو بنې، نظرونه، عقیدې او باورونه په رښتینې توګه سره یو شان کړي.

**ستونزه اختلاف نه دی، د زغم نشتوالی دی:**

اختلاف هغه وخت خطرناک کېږي چې یو لوری ځان مطلق حق وبولي او بل لوری باطل، ناپوه یا دښمن وګڼي. کله چې د بل فکر د منلو ظرفیت له منځه ولاړ شي، اختلاف په شخړه، شخړه په دښمنی او دښمني په تاوتریخوالي او جګړه بدلیږي. د تاریخ په مختلفو دورو کې په ټولنه کې ډېرې جګړې د اختلاف له امله نه، بلکې د اختلاف د نه زغملو له امله رامنځته شوې دي.

**زغم؛ د ګډ ژوند اساسي شرط:**

موږ چې له خپلو ګاونډیانو سره په یوه کوڅه، یوه کلي، یوه ښار او په یوه هېواد افغانستان کې اوسیږو؛ یو له بل سره ګډ ژوند کولو ته مجبور یو. بې له شکه د ډېرو تشابهاتو سره سره، زموږ ترمنځ ډېر تفاوتونه او اختلافونه هم شته. په سوله کې د ګډ ژوند کولو له پاره د همدې تفاوتونو زغملو ته باید غاړه کیږدو. زغم دا معنا نه لري چې د بل نظر ومنو، بلکې دا معنا لري چې د بل د نظر د لرلو حق ومنو. لکه څنګه چې ځان ته د خپل فکر او باور د لرلو حق ته قائل یو، همداسې د ټولنې هر بل وګړي ته هم د هغو د نظر او عقیدې د لرلو حق ومنو؛ د نورو د نظریو او باورونو د بدلون له پاره له زور کار وانخلو؛ او دا هڅه ونکړو چې خپل افکار پر نورو تحمیل او وتپو. زغم ټولنې ته دا توان ورکوي چې له توپیرونو سره سره منظمه پاتې شي. هغه ټولنه چې د زغم کلتور نه لري، حتا که لند مهال چوپه ښکاره شي، په حقیقت کې د انفجار پر لور روانه وي. د افغانستان غوندې د مولتي کلتوري ټولنې له پاره د زغم کلتور تر نورو ډېر مهم دی.

**قانون او اخلاق د اختلاف تنظیموونکي:**

په متنوع ټولنو کې قانون او اخلاقي اصول د اختلاف د مدیریت وسیله ده. قانون باید د ټولو لپاره یو شان وي او اخلاق باید د زور پر ځای د احترام، انصاف او مسئولیت فرهنګ پیاوړی کړي. کله چې اختلاف د قانون او اخلاقو په چوکاټ کې وساتل شي، دښمني نه، بلکې همکاري زېږوي اوپیاوړي کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**اختلاف د ځواک سرچینه کېدای شي:**

هغه ټولنې چې د انسانانو تر منځ اختلاف په سمه توګه مدیریت کوي، له فکري تنوع څخه ځواک جوړوي. یو ځوک فکر لري، بل تجربه، بل مهارت؛ همدا توپیرونه که منظم او همغږي او د ملي ګټو د ساتنې په لوري سوق شي، د پرمختګ محرکه قوه او انجن ګرځي. خو که دا توپیرونه د حذف او تحمیل له لارې یو د بل د ځپلو بهانه او وسیله شي، ټولنه بې اتفاقه، کمزورې، بې‌باوره او وېشلې کېږي.

**پایله**

په ټولنه کې د نظرونو اختلاف دښمني نه، بلکې طبیعي موضوع ده. دښمني هغه وخت پیدا کېږي چې انسانان د اختلاف د زغملو طاقت او ظرفیت له لاسه ورکړي. سوله، ثبات او ګډ ژوند هغه وخت دوام پیدا کوي چې توپیر ومنل شي، عقل حاکم وي، اخلاق لارښود وي او زور له سیاست او ټولنې څخه وایستل شي.
**ټولنې د یو شان فکر په لرلو نه ژغورل کېږي، بلکې د بېلابېلو فکرونو د زغملو په توان پیاوړې کېږي.**

05.01.2026


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ